SHARIAT - شریعت
اوونیزه
په اوونۍ کې یو ځل خپرېږي
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان
پنځم کال ۸۰ گڼه پرله پسې(۳٦۷) سه شنبه د۱٤۲۱هـ ق کال د شعبان المعظم (٤)
۱۳۷۹هـ ش کال د لړم دمیاشتې(۱۰)د ۲۰۰۰میلادي کال د اکتوبر (۳۱)

محترم قاضي القضات و رئیس ستره محکمه ا.ا.ا :

محاکم باید در اجراات خویش از دقت و احــــتیاط کار بگیرند

شریعت : شوراي عالي ستره محکمه تحت ریاست محترم مولوي نور محمد «ثاقب» قاضي القضات و رئیس ستره محکمه ا.ا.ا دیروز در مقر ستره محکمه دایر گردید.

ابتدا آیات چند از کلام الله مجید قرائت گردید بعداً محترم قاضي القضات روي موضوعات اجتماعي و مسایل قضایي کشور صحبت همه جانبه نمودند که در بخشي از سخنان خویش گفتند : شریعت و نظام خداوندي براي مومنان یك امانت الهي است و در هر دور و زمان حفاظت این امانت بر مسلمانان ان زمان لازم میباشد. قبلاً انبیا «ع» ،صحابه کرام، اولیا عظام، ائمه کبار و علما، دین آنرا بدرجه عالي پاسداري نموده اند و مردم قرون بعدي که تا هنوز به دنیا نیامده اند این امانت هم برایشان تا حال محول نگردیده است . در دور و زمان حاضر مسولیت حفاظت این امانت و خدمت به آن تنها و تنها به مومنان و مسلمانان این زمانه متوجه میباشد و اشخاصیکه زمینه خدمت براي شان خوبتر مساعد بوده و صاحب قدرت باشند مسولیت آنان نیز به مراتب اضافه تر میباشد. چرا مکلفیت به اندازه توان و طاقت است باید علما ، طلبا و مجاهدین ا.ا.ا این موقع حفاظت ص ٤

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ ناسي ! ، همدا (عدل) دیر نږدې دی تقوا(پرهیزگاري) ته .
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

محترم وزیر امور خارجه ا.ا.ا طي کنفرانس مطبوعاتي گفتند :

ما در تطبیق فرمان

منع کشت کوکنار در کشور

صادق مي باشیم

ا.ا.ا ازکلیه منابع خبري جهان تقاضا دارد تا حقایق موجود در افغانستان را با رعایت اصول ژورنالیزم منــعکس سازد

از طرف UNDCP مبارزه با مواد مخدر حیثیت سمبولیك دارد ، اگر وضعیت بدینموال ادامه یابد باید آنها مسؤلیت خویش را در جاي ایفا نمایند که ضرورت باشد

کشور هاي همسایه ما باید بدانند که ادامه جــنگ در افــغانستان به نفع آنهـا نمي باشد

ا.ا.ا انتظار ندارد که امریکا علیه آن دست به حملات راکتي بزند در چنین صورت از همه کشور هاي همسایه تقاضا داریم تا فضاي قلمرو شانرا در اختیار امریکـــا قــــرار ندهند

کابل : مشورت
ا.ا.ا از کلیه منابع خبري جهان به الاشه نبرده ،حقایق موجود در افغانستان را با رعایت اصول ژورنالیزم بکایك به جهانیان انعکاس دهند. این مطلب را محترم مولوي وکیل احمد متوکل وزیر امور خارجه ا.ا.ا قبل از ظهر دیروز طي یك کنفرانس مطبوعاتي در جمعي از ژورنالستان داخلي و خارجي که در مقر وزارت امور خارجه تدویر ص ٤

د سمنگانو د روي دواَب ولسوالي لوي پول جوړ شو

د سمنگانو ولایت د روي دواَب ولسوالي د دواَب په کلي کي یو پله په جوړېدو سره له ترانسپورتي پلوه ددغه ځاي د خلکو ستونزي او مشکلات لري شوېدي.
دغه پل چي د روي دواَب ولسوالي د خلکو په مستقیمي همکاري سره د دوه سوه ملیونو افغانیو په لگښت د اتو مترو اوږدوالي او د شپږو مترو په سور ٤ مخ

په تخار کی :

د روسانو د ځرگندو لاس وهنو د غندلو په خاطر غونډه وشوه

د روسیي د دښمنانه عملونو او د اسلامي امارت له مخالفینو سره د ملاتړ په باب د روسانو د ځرگندو لاس وهنو د غندلو په خاطر پرون د تخار ولایت د مرکز تالقانو په ښار کي یوه پراخه غونډه جوړه شوه .
په دي غونډه کي چي د تالقانو ښار په زرگونو تنو دیندارو خلکو عالمانو روحانیونو د ملکي او نظامي ادارو چارواکو او د تخار ولایت د دیني مدرسو استادانو او طالب العلمانو پکي گډون ٤ مخ

طي گردهمایي مشورتي :

مشکلات ناشي از خشکسالي جاري در کــشور بررســي گردید

مشکلات مردم افغانستان ناشي از خشکسالي جاري در کشور دیروز طي جلسه یي مشورتي مسوولین امارت اسلامي افغانستان مورد غور و بررسي قرار گرفت .
درین جلسه مشورتي که به اشتراك محترم ملا عبداللطیف منصور وزیر زراعت و مالداري، محترم مولوي عبدالرقیب وزیر شهدا و مهاجرین ، محترم ملا عبدالجلیل اخند معین سیاسي وزارت امور خارجه ، محترم محمد موسي هوتك ص ٤

در سویس نماینده گان بانکهاي جهاني قرار داد همکاري را امضا نمودند

نماینده گان بزرگترین بانکهاي جهان دیروز قرار داد همکاري را امضا نمودند که بموجب آن از انتقال غیر قانوني پول در حسابات بانکي خویش جلوگیري نمایند.
طبق گزارش رادیو بي بي سي این قرار داد را نماینده گان ص ٤

طي جلسه :

فعالیت هاي موسسات ماین پاکي مورد غور قرار گرفت

کابل - باختر :
فعالیت هاي نه ماهه موسسات ماین پاکي در افغانستان دیروز طي جلسه یي در حالي مورد غور و ارزیابي قرار گرفت که هنوز هم تعدادي ص ٤

د عامي روغتیا په وزارت کی :

د علمي او تخصصي پروگرامونو د اجرا په هکله غونډه وشوه

د عامي روغتیا د وزیر محترم ملا محمد عباس اخند په مشري پرون د .... او وقایوي طب په برخو کي ددغه وزارت طبیبانو او نورو کارکوونکو ته د علمي رتبو او د تخصصي پروگرامونو د ورکولو په خاطر یوه غونډه جوړه شوه .
په دي غونډه کي د طبي پرمختیاو او د عامي روغتیا ٤ مخ

عسکر آقایوف در انتخابات ریاست جمهوري قرغزستان برنده گردید

بي بي سي - باختر :
در انتخابات ریاست جمهوري قرغزستان عسکر آقایوف رئیس جمهور فعلي آنکشور برنده گردید.
رادیو بي بي سي دیروز گزارش داد مامورین انتخاباتي قرغزستان میگویند که تقریباً تمام آرا شمارش شده است و نتایج حاصله نشان میدهد که عسکر آقایوف بیش از هفتاد و چهار در صد آرا را کمایي کرده و ص ٤

غواصان روسیه و ناروي :

جهت اخراج اجساد عمله تحت البحري روسیه به مساعي خویش ادامه میدهند

غواصان روسیه و ناروي به مساعي و فعالیت هاي خود براي بیرون کشیدن اجساد عمله تحت البحري اتومي روسیه در دریاي بارنس ادامه داده اند
قرار گزارش رادیو بي بي ص ٤

محترم الحاج محمد موسي «هوتك» معین اول وزارت پلان ا.ا.ا در مصاحبه با «شریعت» :

احیاي مجــدد اقتصاد ملي کشور در صدر وظایف ا.ا.ا قرار دارد

دو دهه اخیر مرحــــله نهایت دشــوار در تاریخ افغانســـتان محســوب میگردد

شریعت : علاقمندان نهایت محترم !
خبرنگار ما ابتیار سري بوزارت پلان ا.ا.ا زده و در خصوص پلانها و پالیسي هاي مطروحه آنوزارت در قبال احیاي مجدد اقتصاد تو بیا خاسته کشور و چگونگي سایر فعالیت هاي شان مصاحبه را با محترم الحاج محمد موسي هوتك معین اول وزارت پلان ا.ا.ا انجام داده است که اینك به توجه شما عزیزان رسانیده میشود.
در آغاز محترم هوتك معین اول وزارت پلان چنین گـفــتند :
وزارت پلان در سیستم اداره ا.ا.ا منحیث مرکز رهبري اقتصاد ملي مسول تنظیم و انسجام فعالیت هاي اقتصادي با طرح و تدوین پلانهاي علمي و مستدل انکشاف اقتصادي ، اجتماعي کشور و تامین کنترول و نظارت بر جریان تطبیق آن ها قرار داشته و همزمان با طرح سیاست اقتصادي اجتماعي کشور از طریق طرح و تطبیق پلان هاي مختلف المدت مطابق اقتضا ، ملي و جریانات بین المللي اقدامات عملي و موثري را بخاطر رفع عقب مانده گي اقتصادي، تامین انکشاف متوازن کشور، ارتقاي سطح زنده گي مردم و ایجاد هماهنگي بین انکشافات اقتصادي و تحولات اجتماعي برداشته است که مظاهر آن در همه بخش هاي اقتصادي و اجتماعي مشهود است .
نامبرده اضافه کردند : دو دهه گذشته مرحله نهایت دشوار در تاریخ پر فراز و نشیب افغانستان محسوب میگردد. تراژیدي جنگ در پهلوي صد ها عامل و مشکل اقتصادي و غیر اقتصادي، شرایط انکشاف اقتصادي و اجتماعي کشور را پیچیده تر و پر مصرف تر ساخته و بر کلیه نهاد هاي متشکله اقتصاد ملي اثرات سو بجا گذاشته است. از اثر جنگ ها نه تنها شیرازه حیات اجتماعي در کشور متلاشي گردیده بلکه تاسیسات تولیدي خدماتي، فرهنگي و اقتصاد ملي تخریب گردیده و تولیدات و عواید داخلي تقلیل یافته است که این امر همگام با موضع گیري هاي مقطعي و متفاوت کشور ها و موسسات ملي و بین المللي ص ۲



نمایي از ساختمان مقر وزارت پلان امارت اسلامي افغانستان عکاسي یوسف

د وحدت د ممیز پاکولو د فابریکې رئیس محترم حاجی فضل محمد :

زموږ د سوداگری مالونه له ځند او خنډ پرته بهرنیو هیوادو ته صادرېږي

شریعت : قدرمنو مینه والو! د وحدت د ممیز پاکی فابریکه چی په ۱۳٦۳ کال بی بنسټ ایښودل شوی اوس هره ورځ د خپل ۸ ساعته فعالیت په ترڅ کی څه د پاسه ٤ مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د افغانستان بی غرضه پالیسی او د امریکایی برید گنگوسی

په دی وروستیو ورځو کی نړی والو خبری سرچینو یو ځل بیا په افغانستان باندی د امریکی له خوا د کوم هوایی برید په هکله یو لړ رپوټونه خپاره کړی او په دی باره کی یی د خلکو د اندیښنو یادونه کړی ، په دی لړ کی د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر هم د خپل هیواد ۲ مخ

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندی
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوي گڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان ټیلفون : ۲۱۳۸۱ توزیع و شکایات : ٦۲۸٥۹
جاري حساب : $\frac{4-385}{7}$ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالی پاتي برخه

دریغ روښانه کړی او ویلی یی دی چی پاکستان به هیڅ ته هم په افغانستان باندی د برید لپاره له خپلی فضا څخه اجازه ورنکړی ، همدارنگه ورځپه بی بی سی راډیو هم د افغانی پیسو د ارزښت د راټیټیدلو وجه همدغه تشویشونه او اندیښنی وگڼلی، خو په هر صورت امریکایی رسمی مقاماتو لا په دی خبره کی څه نه دی ویلی او خدای دی وکړی چی دا اوازی دروغ وی ، ځکه د افغانستان د بی غرضه پالیسی په اساس هیڅوک هم زمونږ پر هیواد د کوم دغسی برید لپاره څه دلیل نه لری، افغانانو د چا یوه پیاله اوبه هم نه دی اړولی او نه یی د بل چا کورته لاس ورغځولی ، خو بر عکس دا نور خلک دی چی د سولی ، بشری خواخوږی او عصری تهذیب د نارو سره سره یی له لندن، مسکو او واشنگټن څخه زمونږ پر مینه تیری او یرغل کړی نو که دلته یی بیا سر او پښی ماتی شوی وی په افغانانو به څه ملامتی وی، د افغانستان اسلامی امارت هم په وار وار ښه په کلکه څرگنده کړی چی مونږ له هیچا سره څه اختلاف او تربگنی نه لرو او له ټولو هیوادو سره د دوستی او ملگرتیا غوښتونکی یو او په واقعیت سره هم هیڅوک نشی ثابتولای چی د افغانانو له لاسه دی کوم هیواد ته څه خطر پیښ شوی وی، اوس نو که څوک په یو بی ځایه تور تهمت مونږ ته گواښیږی ددی مطلب به دا وی چی مغرض هیوادونه نه غواړی په افغانستان کی یو داسی نظام واکمن وی چی د ولس د هر اړخیز ملاتړ نه برخمن او د خپلو ملی غوښتنو درناوی کوی، ځکه په دی کی خو هیڅ شک نشته چی اسلام زمونږ د ولس دین دی او د خپل دین د تطبیق لپاره یی بی شانه قربانی ورکړی دی نو نه پوهیږو چی په خپل کور کی د خپل دین او مذهب په عملی کولو سره نورو هیوادو ته څه خطر پیښیږی .

مونږ یو ځل بیا د امریکی ، روسیی اوگاونډیو هیوادو څخه غوښتنه کوو چی پر خپلو دریځونو یو ځل بیا کتنه وکړی او بی موجبه زمونږ پر هیواد د یرغل کولو او لاس وهنی څخه ډډه وکړی، همدارنگه گاونډی هیوادونه هم باید له خپل قلمرو څخه پر افغانستان باندی د یرغل لپاره چاته اجازه ورنه کړی او لکه پاکستان چی په دی هکله خپل دریځ څرگند کړ، هیله ده نور گاونډی هم دی ته ورته دریځ غوره کړی په ځانگړی ډول روسان باید خپل تیر اشتباهات تکرار نه کړی، له افغانانو سره د بی ځایه دښمنی نه لاس واخلی او زمونږ د هیواد او خلکو له دښمنانو سره خپلی مرستی بندی کړی، خو که بیا هم مغرض هیوادونه خپلی یرغل گری کړنلاری تعقیبوی نو ان شاء الله ډیر ژر به د هماغه برخلیک سره مخامخ شی چی انگریز او شوروی اتحادورسره مخامخ شوی وو افغانانو ته که هر څومره گرانه تمامیږی خو بیا هم پردی لاس وهنی نه شی زغملای او تل یی یلوسگر قوتونه شرمیدلی او سرماتی له خپله هیواده شړلی دی.

د روشنفکرانو رسالت او مسولیت ته ځغلنده کتنه

وحید الله غازی خیل

تیره اوونی د ۱٤۲۱ هـ ق کال د رجب المرجب د میاشتی په ۲۸ مه نیټه د امریکا غږ راډیو ، سره ښاغلی محمد خدام بشرمل یوه اوږده مرکه وکړه دغه مرکه چی د روښانفکرانو د رسالت او مسوولیت په هکله وه ښاغلی بشرمل له افغانستان څخه لری په اروپا کی ده په گـرنه « اصطلاح » یو گوند چی سوله ، عدالت او دیموکراسی غواړی جوړ کړی ده وویل چی ټول روښانفکران یی راغونډ کړی او غواړی چی له ښکته څخه پورته دیموکراسی په افغانستان کی پلی کړی . دی وایی چی تجربو ښودلی ده چی له مرکز څخه دیموکراسی اطراف ته ډیر ستونزمن کار وه نو ځکه مو وپتیبله چی له کلی څخه ولسوالی ، له ولسوالی څخه ولایت او له ولایت څخه مرکز ته د دیموکراسی رسی وزغلوو ښایی له دی حقیقت څخه به ټول افغانان خبر وی چی ښاغلی بشرمل د ډاکتر نجیب الله په امریکا او ملگرو ملتونو کی خاص استازی پاتی شوی دی .

د دی لپاره چی د روښانفکرانو رسالت او مسوولیت ښه واضح شی ښه به وی چی رڼا پری واچوو په نړی کی روښانفکران یا یوازی هغه کسان نه دی چی سواد یی زده کړی وی او لیک لوست کولای شی ځکه په نړی کی سواد او زده کړه عام دی او د اکثرو هیوادونو ټول اوسیدونکی لوستی او باسواده دی نو ځکه هلته د روښانفکرانو خاص مفهوم دی . هلته روشنفکران معمولاً د ځان په اړه فکر نه کوی بلکی د خپل هیواد او جهان په اړه فکر کوی ، د دوی د فکر ور شو د خپل ملت د هوسایښی او ټول بشر د ارامی موضوع وی تر ښکیلاک لاندی هیوادونو کی روښانفکران آزادی بښوونکی غورځنگونه را منځ ته کوی ، او د آزادی لپاره مبارزه کوی په وروسته پاتی هیوادونو کی د پرمختگ غورځنگونه پر مخ بیایی په پر مخ تللو هیوادونو کی د ژوند د سطحی د لا لوړو لو لپاره لاری چاری راباسی او په مجموع کی بشریت له بدبختیو پسمانیو ، او تیارو راباسی او دا خپل انسانی او وجدانی مسوولیت گڼی او په دی لاره کی د فداکاری تر حده کار کوی ، زیار باسی او نوی لاری چاری مومی زموږ په هیواد کی هر هغه څوک چی الف با یی لوستی او په څه پوهیږی ځان ته روشنفکر وایی نو له دی کبله د روشنفکرانو له پاره کومه پوله او حد نه دی ټاکلی شوی زه هم په خپلو دی خبرو کی روشنفکران په لږ څه مانا اخلم او دی ته راځم چی د تیرو دوو لسیزو په غمونو ، مصیبتونو ، جنگونو ، جنایتونو ، جرمونو او بدمرغیو کی روشنفکرانو څه کړی او څه رول یی لوبولی دی آیا د دی ټولو بدبختیو عاملین همدا په اصطلاح روشنفکران یا روشن فکران ، فکر نمایان نه دی ؟ راځی چی ډله ډله یی وشمیرو .

زموږ لومړی ډله روشنفکران رشین فکران شول دوی روسیی یا پخوانی شوروی اتحاد چی په افغانستان کی یی د غیر ملی حکومتونو د موجودیت له امله ژوری سیاسی ، اقتصادی ، جاسوسی او نظامی ریښی زغلولی وی په خپل اس کی ونیول او د مارکس او لینن سره کتابونه یی په لاس کی ورکړل ، د فیوډالیزم ، پانگوالی ، غلامی ، اوښتون ، « انقلاب » درسونه یی پری پاخه کړل ، د کمونیزم پنځه دوری یی ټولی پری یادی کړی د خپل (نفاق واچوه حکومت کوه) د فارمولی له مخی یی د افغانستان واحد ملت د ملیتونو د مجموعی په نامه ورو پیژاند او نور دوی یی له دی چی خپل مغز په کار واچوی او افغانی ټولنه په خپلو سترگو وگوری د توتی په شان همدا درسونه تکرار کړل او د هغو د پلی کولو له پاره یی اماده گی ونیوله دوی ته د کمونیزم لومړی درس دا و چی په انترناسیونالیزم کی وطن نه ځاییږی او ملی گټی ساتل له انترناسیونالیستی گټو سره خیانت دی په خلکو رحم کول پر انقلاب ظلم دی او له همداسی مفکوری سره یی د خپل رسوخ په زور د افغانستان پر ملت مسلط کړل دوی گټی پیژندلی یو خپلی شخصی او بل د خپل بادار گټی دوی ملی گټی نه پیژندلی او ملی گټی یی له مغزو نه وینځل شوی وی د دوی په نظر د کمونیزم د دنیا یوه عادی سړی تر یوه با شرفه افغان زیات ارزښت درلود ساغه وو چی دوی د کمونیستو یارانو له قوماندی سره سم د افغانانو د وژلو لړی پیل کړه د ۱۳۵۷ کال د غوایی کودتا د وو لومړیو ورځو پنځلس زره انسانی تلفات درلودل او دا شمیره په هغه وخت کی د خلق د کمونیست گوند د ټولو غړو تر شمیری زیاته وه او له همدی ورځی نه یی د مسلمانانو او هیوادپالو افغانانو د نیولو ، بندیانولو ، او وژلو لړی پیل کړه او د ژوند یو انسانانو د خښولو ناوړه لاره یی پرانیستله د افغانستان د دین او کلتور له غوښتنو نه د بیگانه فرمانونو په رااېستلو سره یی د خلکو تر منځ د کرکی او نفرت پیدا کولو هڅی وکړی او د تخیلی کمونیزم د پلی کولو لپاره یی له ټول وحشت او دهشت نه کار واخیست دوی ته به چی چا وویل له لوی خدای « ج » نه ویریږی دوی به ویل موږ لوی شوروی اتحاد تر شا لرو له بل چا ویره نه لرو د دوی د ناوړه اعمالو په پایله کی افغانستان له داسی مصایبو سره مخامخ شو چی په خوب کی یی هم نه ولیدلی په لکونو افغانان یی په زندانونو کی په وحشت او شکنجو ووژل په ملیونونو افغانان یی له خپل هیواد نه وشړل په سوونو کلی یی په بمبارۍ او لښکر کشیو وران کړل او په افغانستان کی چی له ۵۷ کال نه تر ۷۱ کال پوری هر څه پیښ شول مسوول یی همدغه په اصطلاح روشنفکران وو چی لومړی په بیله په خلکو ظلمونه وکړل او بیایی روسان د خلکو وژلو ته راوبلل دوی ته د افغانستان د خلکو د ارام ژوند د گډوډولو د روند مسوولیت ور په غاړه دی کیدای شی په دوی کی به داسی کسان هم وو چی د خدمت په نیت به یی د کمونیزم رسی ته لاس اچولی ، خو دوی په داسی لاره تللی وو چی جنایت او جرم ته سوق کړای شول او د حفیظ الله امین خبره د بیرته گرځیدلو پلونه یی ورته نړولی وو .

د دوی دا خیانت که قصدی و که سهوی له دی امله و شو چی دوی ملی مطالعه نه درلوده دوی د افغانستان د دین ، کلتور ، تاریخ او ملی روحیاتو نه غافل یا اغفال شوی وو ځکه چی د افغانستان هر څه بیلی ځانگړنی لری دلته د کمونیستانو له خوا په تاریخ کی مطرح پنځه مرحلی بیخی تیری شوی نه دی دلته غلامی په هغه شدت چی په اروپا کی وه نه ده راغلی ، فیودالی لکه ځنگه چی په کمونیزم کی مطرح ده دلته نه وه په افغانستان کی ډیر لږ داسی کسان وو چی له مړښته چاودل او ډیر لږ داسی کسان و چی له لوږی مړه کیدل د هیواد عامه طبقه منځنی طبقه وه چی لاس او خوله یی چلیدل او په ډیر داد او اطمینان یی په خپل هیواد کی ژوند کاوه ، پانگوالی دلته بیخی راغلی نه وه ، لویی پانگی او شتمنی ټولی دولتی یا په سیاسی اصطلاح نشنلیزه وی ، د کوم شی د ملی کولو اړتیا نه وه کارگران د هیڅ په شمیر وو نو له دی امله هیواد کمونیستی او کارگری انقلاب ته غوښت دلته دا هر څه د ریفورم او اصلاحاتو له لاری پوره کیدای شوای یوازی او یوازی یوه غمخور ملی حکومت ته اړتیا وه دلته ملیتونه نه وو بلکی قامونه وو چی یو واحد ملت یی جوړ کړی وا او د دوی تر منځ د تضادونو د پیدا کولو پر ځای د لا نژدی کولو هڅه په کار وه د خلکو ځمکو ته څه حاجت و چی ویشلی یی بلکی د ښارو دښتو ابادولو ته ضرورت و افغانستان په تاریخ کی د آسیا گدام بلل کیده او په لږ کار سره کیدای شوای چی بیا هم دا هیواد د آسیا په گدام بدل شوی وای . که خلقیانو ریښتیا هم ملی درد او درک درلودی او که ریښتیا هم دوی عقل او فکر درلودی نو روسانو ته به یی ویلی وو چی ټانگونه مه راکوی ، تراکتورونه راکړی او پردی به یی د خلکو د وژلو په ځای د دښتو په ابادولو لاس پوری کړی وای د یکو! دښته د فراه دښته او د افغانستان په لویدیځو او شمالی ولایاتو کی نوری دښتی به یی ابادی کړی وی د پکتیا ، کونړ ، لغمان ، سپزک او نورو ځنگل لرونکو غرونو اوسیدونکی به یی هلته لیږدولی وو او بیا به یی روسانو ته ویلی وو چی د ځنگلونو د پرمختگ لپاره یی امکانات ورکړی وای او په دی ځنگلی سیمو کی یی د کاغذ جوړولو ، پنسل جوړولو گوگړ جوړولو او ورونو کرکیو او نورو لرگینو مصنوعاتو د جوړولو کارخانی جوړی کړی وای . خو دوی لکه پخوا می چی وویل یوازی خپلی شخصی گټی او د روس گټی پیژندلی او بس . دوی په ځانی توگه له هیڅ نه ظاهراً د واک څوکیو او نعمتونو ته ورسول شول او د عیش او نوش وسایل ورته مهیا شول او په دی نیشو او تماشو کی یی د وطن ټوله ملی شتمنی انسانی شتمنی او مادی او معنوی شتمنی د بربادی او فنا غیږی ته وسپارله ، موږ ډیری نمونی احصائیی او ددی جنایتونو مستند سندونه لرو خو دلته تری تیریږو د خلق او پرچم د ډلو له کسانو سره چی کله سړی وینی او په حالاتو ورسره غږیږی نو دوی ددی لپاره چی دا کارونه یوه عادی پیښه وښیی وایی : هو ! اشتباهات شوی خو زموږ له نظره که انسان وژل کورونه لوټول کلی او ښارونه ورانول اشتباه دوی نو جنایت او گناه څه ته ووایو دوی که ریښتیا هم روشنفکران وی باید په خپل جرم اعتراف وکړی ، له خپل مظلوم مومن اتل ملت او استعمار شکن ملت نه عفوه وغواړی او د راتلونکی له پاره په نوی نیت او اراده د خپلو سوابقو د ورکولو له پاره د خدمت ژمنه وکړی نه دا چی له افغانستان نه لری په اروپا کی کفری گوندونه تاسیس کړی .

احیای مجدد اقتصاد ملی کشور در

در قبال قضایای مربوط به افغانستان خرابی بیشتر وضع اقتصادی و تنزل سویه زندگی و رفاه اجتماعی را موجب گردیده است .

موصوف افزودند : بدیهیست که عوامل فوق منحیث عناصر اساسی و تعیین کننده پالیسی اقتصادی ، اجتماعی جهات عمده پالیسی مذکور را وقتاً فوقتاً به گونه تحت تاثیر قرار داده به تدریج آنرا از جهت انکشاف متوازن و دوامدار خود کفایی و رسیدن به مرحله جهش اقتصادی بجانب جلوگیری از وخیم تر شدن اوضاع اقتصادی، احیا تجدد و ترمیم خرابی های جنگ و تامین نیازمندی های اقتصادی، اجتماعی توجیه نموده است. اهداف فوق زمانی در نظر قرار گرفته و پیشبرده میشود که کمک های مالی و تخنیکی خارجی که در سالهای قبل از جنگ عمده ترین منبع تمویل پروژه ها و تحقق اهداف پالیسی اقتصادی را تشکیل میداد کاملاً قطع گردیده است.

وی میافزاید : با وجود همه مشکلات احیای مجدد اقتصاد ملی کشور در صدر وظایف ۱،۱،۱ قرار داشته و با در نظر داشت امکانات مالی دست داشته پلانهای انکشاف اقتصادی اجتماعی همه ساله طرح و ترتیب گردیده و به منصه تطبیق قرار میگیرد که در طرح پلان احیای مجدد و تجهیز تخنیکی موسسات صنعتی ، ساختمانی ،زراعتی و ترانسپورتی که اساس مادی و تخنیکی را برای رشد متداوم ایجاد می نماید مورد توجه خاص قرار گرفته است.

قابل یاد آوریست که اهداف این پلان ها عمدتاً بر امکانات ملی طرح گردیده و سهم منابع خارجی در آنها خیلی ناچیز حتی هیچ وجود ندارد. البته مساعی برای بر قراری روابط مناسب و مثمر اقتصادی با عده از کشور ها و موسسات بین المللی ادامه دارد. باید گفت که همین اکنون پروسه احیای مجدد یك تعداد پروژه ها و موسسات تولیدی و خدماتی جریان داشته و به یاری خداوند متعال اقتصاد ملی کشور دو باره احیا و باز سازی خواهد گردید.

وزارت معارف، وزارت پلان ، اداره مطالعه و نقشه برداری زمین، وزارت تحصیلات عالی، کورس عقیدتی و لسانهای خارجی و تعمیر ریاست پلان زون شرق مربوط وزارت پلان همچنان هوتل سپین زر، تمدید لین پارک های صنعتی، تعمیر ریاست زراعت ولایت ننگرهار و فارم جنگلات آن ، پوسته خانه های جاده میوند، خوشحال مینه ، ارزان قیمت و پارکهای صنعتی مربوط وزارت مخابرات و تعمیر کتابخانه های عامه کلاً و یا قسماً تکمیل و آماده بهره برداری گردیده است هکذا امور ترمیم و احیای مجدد پروژه های ذیل بین ۳۰ تا ۹۵ فیصد تکمیل گردیده و عنقریب به بهره برداری سپرده خواهد شد.

شش بلاك رهایشی ۲٤ فامیلی استادان پولتخنیک کابل، پیداگوژی کابل، الکترو میخانیک کابل، نصب شیشه موسسات وزارت تحصیلات عالی مرکز تربیوی مخابرات بشمول شبکه برق و مسجد شریف آن، احیای مجدد تعمیر مخابرات ولایت میدان وردك و دیوار احاطه آن شرکت صادرات نباتات طبی، شرکت تعاونی تجارتی امارتی، تعمیر پنجمنزله مطابع امارتی و سیستم برق آن ، گدامهای تخم های اصلاح شده بذری دارالامان ، ریاست مرافعه ننگرهار، مسجد شریف کارته پروان، ستدیوم ورزشی کابل، احیای مجدد پولتخنیک کابل و امور ص٤

د شعر او ادب نړۍ

چي کشور د افغانانو معطر کا
د هر بیت مصرع مي زلفي د خوبان کړي

سپینه لمن

سعدالله سعید زابلي

درملنه به په وینو د وطن کړم
خړې دښتي بي سموره شین چمن کړم

اغلیه بي کړم دړی په شنه جامه کي
هره پوله بي د گلو جوړ گلشن کړم

شمله بي د ویاړ په ننگه ځلي
افتخار بي د دي عصر ستر پشمن کړم

نور به نه وي د پردو تر جبر لاندي
دا زخمي زخمي زړگی به ئي غمجن کړم

چي گنهلي مو لیلا د خپلواکۍ ده
په گلونو بي د ویاړ سپینه لمن کړم

اوس بي وگوري جهان په خړو سترگو
په سیالي بي د رقیب زړگی غمجن کړم

د «سعید» د زړه ارمان به هله خیږي
چي په ننگه بي جامي د ځان کفن کړم

اي غازي

محمد حنیف بلخي

در زمان خلیفه باداد
عمر ثاني خجسته نهاد

تا صف کفر را شکست رسید
از غنایم بسی بدست رسید

درب دار خلافت آوردند
همه را بهر قسمت آوردند

در میان غنیمت بسیار
جعبه بود پر ز مشك تتار

عمر آن کاخ عدل را قندیل
بست بیني خویش با مندیل

چون ز مشك غنیمت آمد بو
چاك بیني خود نمود رفو

در صف جنگ گر تو ایغازی
آمدی از برای سربازی

صف کفار را شکست رسید
مال شان مر ترا بدست رسید

هوش کن بیشتر ز قسمت مال
مي نگیري که هست سخت وبال

دست از اخذ مال عامه بشوي
گر چه اوموي باشد ویا بوي

پرهرونه حسابم

حنیفه زاهد شاه جویی

په تمه د خوښی کی لا کلونه حسابم
په دی نامراد دورکی غمونه حسابم

اووده شوه ماتمونه حوصلی شوی ستړی ستړی
کوڅوکی د زړه چاودو قطارونه حسابم

بدبخته بوراگی یم په تالا گلشن کی پاتی
گلونه رژیدلی ډنډرونه حسابم

چی مایی په محفل کی خوشحالی خندا لیدله
بیل شوی دی یاران اوس بی قبرونه حسابم

په تمه د ساقی ولاړه وم میاشتی کلونه
مرام می حاصل نشو تش جامونه حسابم

پرخاورو پرڅیدلی په مظلومو وینو رنگ بی
وطنه په ژړا دی پرهرونه حسابم

آسمان دی قهریدلی زما له بدو بدو کړونه
دا ځکه آن په آن بی تندرونه حسابم

قسمته مروره لادی بد څومره پر زړه دی
دردونه به گالم ستا گذارونه حسابم

د ستړیو امیدو بیړی می نه رسی ساحل ته
«زاهده» هسی خوشی گودرونه حسابم

در صبح پیروزي

مژده

اي بر کشیده تیغ جهاد خود از نیام
اي ملت مجاهد واي کشور قیام
بر روح پاك کشته راه خدا درود
بر سنگري که بسته ره دشمنان سلام

* * *

بس تیره روز ها که بدَشت این دیار
از ظلم و از ستم شده ویرانه باربار
تن ها به ضرب تیغ ستم پاره پاره گشت
سر ها که خم نگشت علم شد به چوب دار

* * *

این قوم بار ها ره میدان گرفته است
راه هجوم و حمله عدوان گرفته است
لیکن به صبح فتح از آن رزم و آن جهاد
حاصل گروه فاقد ایمان گرفته است

* * *

اینك تزار سرخ برین خطه تاخته
شمشیر ظلم بر سر این خلق آخته
صد بار وحشیانه تر از حمله مغول
چنگیز در برابر اورنگ باخته

* * *

بکسان بخاك کشور آزاده را نگر
اشك یتیم و آه زن بیوه را نگر
از ظلم و جور دشمن غدار ملتي
در هجرت و به غربت و آواره را نگر

* * *

بهر دوام سلطه این خود فروش پست
هر روز روس حیله و ترفند تازه بست
اي پرچم سیاه دگر گشته بي نگون
با خون نوشته ایم به تقدیر تو شکست

* * *

گرچه قیام ماست طلوع و قیام فتح
تنها شکست روس نباشد پیام فتح
بنهاده ایم در ره اهداف انقلاب
جهاد و شهادت زمام فتح

انزکف

د وینو نذرانی

حقپال

سترگی دی له غمه د سرو وینو پیمانی
خو نداخلی نري د غمه د بواړه د زمانی

بله شي د بوه تیاره محفل ته د مراد
زړه کی چی وی مینه بل ته نه وي بهانی

کښیوته د زړه مرغی په دام کی د صیاد
ځکه نه نغمی شته نه د ژوند بې ترانی

شمع د اصلی ژوندانه بله په ژړا ده
بی کړاوه کله چا گټلی بارانی

بې د خپلواکی زلفی تري ورانه مشوره شوله
کار چی بې وانه خپسته د صدق له شانی

دا د هیلو ناوی شوله بنده په ډولی کی
نه بې چا مخ ولید نه گاڼه نه سامانی

نه رسیږی غاړی ته بیړی د چا د فکر
خلاص چی بې ملاخ شو د اسلام له خزانی

نه رسی تر هسکه په وریا د قام شمله
غواړی له هر چا څخه د وینو نذرانی

دا د حقیقت په تارو اوښکي دي پیيلي
مه گڼه «حقپاله» دا د شعر دردانی

ځلي

هاشم خان «منگل»

زمونږ وطن دی د میړانو، غیرتونو ځلی
هم په نړی کی د یادونو یادگارونو ځلی

د ننگ تاریخ مو د ویاړ منو حماسو نه ډک دی
ځکه مو هسک له ویاړه ډک د منارونو ځلی

مونږه د هیچا غلامی ته سر تیټ کړی نه دی
د هر غلیم سره مو جوړدی د سرونو ځلی

چی ابدالی بابا مو تللی په کوم لوری باندی
په هغه لاربه جوړووم د قدمونو ځلی

چی پلار، نیکو مو د سرو په قربانی ساتلی
دا شان په وینو به ساتم د سرحدونو ځلی

د هندوکش او د سپین غر د هیواد نورو غرو کی
په هره خوا کی بی ښکاریږی د ویاړونو ځلی

په لویشت او گام کی مو زرغون د شهید وینو گلان
په دښت دامان کی مو جوړ شوی د یادونو ځلی

لوړه شمله د خپلواکی مو خدایه تینګه مکړی
سرپورته غواړم په جهان د پلار نیکونو ځلی

«هاشم خان» وایی ننگ غیرت راته میراث پاتی دی
ځکه په ننگ او غیرت ساتو د ننگونو ځلی

وخت

م. غمشریک څوکیوال

چه دی چی بو بل سره همکار اوسو
وخت د بیداری دی چی بیدار اوسو

ورُیری د بری پټ په وحدت کی دی
راشی چی روان په یوه لار اوسو

لویه بدبختی بیکاری وگڼی
لویه نیکمرغی ده که په کار اوسو

ټول سره را ټول یوه محور کی شو
بس له ځانځانیو نه بیزار اوسو

سر د اسلامی امارت هیلی کړو
دی لار کی چمتو او فداکار اوسو

شومی هیلی شندی د اغیار وشی
جوړ ملی وحدت کړو او هوښیار اوسو

پټ دامونه ایښی دښمنانو دی
پایی وطنوالو خبردار اوسو

وخت د ملی گټو دگټلو دی
راشی له شخصی گټو بیزار اوسو

داصحابو دژوند پلوشي

مؤلف : دکتور عبدالرحمن رأفت باشا - مترجم : بشار

٣٣

بیا عکرمه او ښځه بې چی د مکی په لوری روان و په لاره کی د دواړو شپه شوه، په دغه وخت کی هغه له خپلی ښځی څخه نفسانی غوښتنه وکړه مگر ښځی د هغه غوښتنه ونه منله او ویی ویل :

زه مسلمانه او ته مشرک یی.

عکرمه په تعجب کی شو او خپلی ښځی ته یی وویل : هغه څه چی ستا او زما د خلوت مانع گرځی ډیره لویه خبره ده . کله چی عکرمه مکی ته نژدی شو نو رسول الله «ص» خپلو ملگرو ته وویل : ژر دی چی تاسی ته عکرمه مومن مهاجر راشی نو تاسی د هغه پلار ته ښکنځل مه کوی ځکه مړی ته ښکنځل ، ژوندی رېږوی او مړی ته نه رسیږی.

ډیر وخت لا نه و تیر چی عکرمه د خپلی ښځی سره رسول الله «ص» ته راغی او ځنگه چی په هغه باندی د الهی پیغمبر نظر شو نوالهی پیغمبر له ډیری خوشحالی بی څادره د هغه په لوری ټوپ کړ او بیا چی کښیناست نو هغه ورته په مخکی ودرید او ویی ویل : ای محمده ! ام حکیم خبر راکړی چی تا ماته امان راکړی دی .

پیغمبر «ص» ورته وویل : هغی رښتیا ویلی ، نو ته په امن کی یی .

عکرمه وویل : ای محمد ، د څه شی په لوری بلنه ورکوي ؟

ویی ویل : زه تاته ددی بلنه کوم چی شاهدی ورکړی چی الله یواځنی معبود دی او زه د الله بنده او رسول یم، او بله دا چی په ښه توگه لمونځ ادا کړی ، زکات ورکړی تر دی چی هغه د اسلام ټول ارکان یاد کړل.

عکرمه وویل : په الله سوگند، تا د حق په لوری بلنه وکړه او تا په خیر سره امر وکړ.

بیایی وویل : په الله سوگند، ته له دغی بلنی څخه لا مخکی زمونږ په نسبت په خبرو کی خورا ښه رښتین او خورا ښه ښېگڼه کوونکی وی .

بیا یی خپل لاس وراوږد کړ او ویی ویل :

زه شاهدی ورکوم چی الله یواځني معبود دی، او شاهدی ورکوم چی ته د هغه بنده او د هغه رسول یی .

بیایی وویل : یا د الله رسوله ! ما ته ښه شی وښیه چی هغه ووایم.

هغه وویل ته به اشهد ان لا اله ... وایی .

عکرمه وویل : بیا څه ؟

رسول الله «ص» وویل : ته به وایی : زه الله او هغه څوک چی حاضر دی شاهد گرځوم چی زه مسلمان مجاهد ، مهاجریم.

په دغه وخت رسول الله «ص» ورته وویل :

نن ورځ ته له ما څخه د یوه شی چې چا ته یې ورکوم غوښتنه نکوی مگر دا چې هغه به درکړم.

عکرمه وویل :

زه له تا څخه غوښتنه کوم چی هره دښمنی چی ما له تا سره کړی ده او په هر ځای کی چی ما ستا مقابله کړی ده او هره خبره چی ما ستا په مخکی او یا پسی شا کړی ده ماته ددغو ټولو بخښنه وکړی .

رسول الله «ص» وویل : ای الله ! ده ته د هری دښمنی چی له ما سره یی کړی ده او په هره لاره چی ستا د نور د مړکولو لپاره یی تگ کړی دی بخښنه وکړه،او هم ورته د هغه څه چی زما د ناموس په باب یی مخامخ او یا په غیاب کی ویلی ، بخښنه وکړه .

په دی دعا سره د عکرمه مخ د خوشحالی څخه روښان او ځلانده شو او بیا یی وویل :

باقي لري

احياي مجدد اقتصاد ملي كشور ...

ايزوليشن بامهاي آن، سرك سروبي جلال آباد، ترميم ساختمان پل هاي مسير سرك كابل - قندهار، ترميم تعمير اداري رياست پما و سرك جلال آباد - تورخم، احياي مجدد مقر پوهنځى هاي حقوق، ژورناليزم ،اقتصاد ،ادبيات، جمنازيم،اديتوريم ديوار احاطه ليليه مركزي پوهنتون، پوهنځي وترنري و زمين شناسي ، انستيتيوت طب كابل، ساختمان مسجد شريف، پوهنتون كابل ، شبكه برق رساني پوهنتون كابل احياي مجدد پوهنځى هاي زراعت ، هنر ها، علوم ساينسي و انستيتوت كيميا، دعوت الجهاد، ترميم و داغگيري سرك هاي شهر كابل، ساختمان گلدان هاي سرك هاي شهر كابل، پروژه جويچه هاي كنار سركهاي شهر كابل، پروژه اعمار مسجد شريف سركاريز كمپني، ترميم محاكم ولايت كابل، احياي و ترميم تعمير ولسوالي چهاردهي ، ترميم گدامهاي كود كيمياوي واقع دارالامان، ترميم تعمير فارم مرغداري جنگلك ، ترميم لابراتوار تشخيص امراض حيواني دارلامان، ترميم تعمير رياست ترويج، مقر وزارت زراعت ، ترميم تعمير ترويج ولسوالي پغمان، احياي مجدد سيستم هاي آبياري ولايات بشمول خريداري گابيون، احياي مجدد **دستگاه هاي مولد برق، احيا و ترميم تعمير اداري احصائيه مركزي ، احياي مجدد د مستوفيت ولايت پكتيا، پروژه توسعه ميدان هوايي بين المللي كابل، احياي مجدد تعمير اداري رياست هوانوردي ملكي، ترميم ديوار احاطه بس هاي برقي، احياي مجدد تعمير بزرگ مخابرات، ترميم تعمير پنج منزله پوسته خانه مركزي، احياي مجدد تعمير مخابرات اسلام قلعه تورغندي، احياي مجدد تعمير اتومات شهر نو، احياي مجدد اتومات مكروويان سوم، ترميم تعمير مخابرات ولايت غزني،** ريكانستركشن ذغالسنگ كركر و دودكش، پروژه كار هاي جيولوجيكي اكتشافي مواد مفيده جامد، تفحص نفت و گاز شمال ، لابراتوار كمپلكس سروي معدن، تصدي كارخانه جات جنگلك، پروژه ترتيب نورمهاي بر آوردي ، احياي مجدد سرك هاي كابل - سروبي، پلخمري - بغلان - كندز، شبرغان - سرپل ، مزار شريف - شبرغان ، و رياست حفظ و مراقبت سركها ، تهيه مسكن، بلاك رهايشي كارمندان وزارت فوايد عامه، ترميم دستگاه ساختماني بنايي، تعمير يك منزله مقر وزارت فوايد عامه، پروژه سازي سركها و پل ها ، اعمار منازل رهايشي بي بي مهرو، احياي مجدد تعمير معلولين و معيوبين اكادمي علوم طبي و تعمير اداري ولايت لغمان.

در اخير محترم هوتك چنين اظهار داشتند: توقع ميرود با اكمال كار باقيمانده پروژه هاي متذكره به بهره برداري سپرده شوند، نقش موثر خود را در احياي باز سازي اقتصاد و فرهنگ كشور بجا گذاشته و كشور را بسوي ترقي و پيشرفت سوق دهد .

قابل ياد آوريست كه يك تعداد فارغين موسسات تحصيلات عالي مطابق رشته و مسلك شان بوزارت ها و ادارات ا.ا.ا معرفي و جذب گرديده و به تعداد ٣٤٢ موسسه غير حكومتي منجمله ٧٤ NGOs خارجي و ٢٦٨ NGOs داخلي در وزارت پلان ثبت و راجستر گرديده و مطابق مقرره نافذه كشور فعاليت دارند.

مصاحبه كننده : عبدالبصير «شاكر»

زمونږ سوداگري...

١٤ ټنه ممبز پاک او پروسس کوی .

پورتني مطلب د نوموړی فابريکی رئيس محترم حاجی فضل محمد زموني له خبريال سره د مرکی په ترځ کی څرګند کړ :

دی زياتوی چی په دغی فابريکی کی له وخت او زمان سره سم او د اړتيا وو مطابق له ٥٥ نه تر ١٠٠ تنو پوری هيوادوالو ته د کار زمينه برابره شوی ده په داسی حال کی چی د ا.ا.ا څخه بی زياته خوښی او رضايت څرګند اوه زياته بی کړه : اوس چی د هيواد په ٩٥٪ خاوره کی د اسلامی امارت له خوا بشپړه سوله او امنيت رامنځته شوی د خلکو د مال او سر لپاره هيڅ ډول خطر نشته او د ا.ا.ا د خلکو د شتمنيو د مصونيت ضمانت کوی .

د بادونی وړ ده چی زمونږ د سوداګری مالونه اوس له کوم ځنډ يا خنډ پرته په ډېره آسانی سره بهرنيو هيوادونو، په ځانګړی توګه لندن او روسيی ته صادريږی . مونږ په پام کی لرو چی په راتلونکی کی خپل فعاليتونه لا پراخ او ګړندی کړو .

محترم قاضي القضات

و خدمت شريعت و نظام اسلامي را ضايع نكرده تا اين امانت را بطور محفوظ و بصورت درست و سالم به نسل آينده تحويل نموده باشند.

محترم قاضي القضات افزودند: همه محاكم بايد دراجراات خويش از دقت و احتياط زياد كار گرفته باشند، بخصوص محاكم ابتدائيه بايد به نهايت درجه محتاط و دقيق بوده باشند، زيرا محاكم ابتدائيه اساس و بنياد براي فيصله ها بوده و درباره موضوعات معلومات بيشتر و خوبتر هم نزد محاكم ابتدائيه ميباشد . و وثايق شرعي نيز در محاكم ابتدائيه ترتيب و اجرا ميگردد و در بسياري موارد فيصله هاي محاكم ابتدائيه قطعي بوده كه در محاكم فوقاني دوران داده نميشود پس قضات محاكم ابتدائيه مسوليت وظيفوي خويش را كاملاً درك نموده احتياط بيشتر نمايند.

محترم رئيس ستره محكمه علاوه نمودند : مسولين ،منسوبين و ساير افراد محاكم بايد خوب دانسته باشند، معلوماتيكه در باره آنان به ستره محكمه ا.ا.ا ميرسد بعد از تثبيت و توثيق معلومات حاصل شده ستره محكمه به اساس مسوليتي كه دارد طبق معلومات موثق اقدام و اجراات مقتضي مينمايد. و هيچ نوع گذشت و مراعات با كسي شده نميتواند، تا عملاً ثابت گرديده باشد كه ستره محكمه بهترين مرجع تامين كننده عدالت ميباشد و نزد ستره محكمه بين افراد قضايي و اداري محاكم و ديگر مردم در چنين موارد تفاوت وجود ندارد .

سپس روي پيشنهادات رياست امور ذاتيه و رياست دارالانشا ، ستره محكمه و محكمه، شينواري غوربند ولايت پروان غور همه جانبه صورت گرفت، همچنان روي نظريات كميسيون تجديد نظر، و ديگر موضوعات شامل اجندا بحث و بررسي دقيق بعمل آمد در هر بخش از طرف شوراىعالي تصاويب صورت گرفت و به مراجع و محاكم مربوط ابلاغ گرديد.

فعاليت موسات ...

از هموطنان ما همه روزه قرباني ماين ميگردد.

فعاليت نه ماهه موسسات ماين پاكي در افغانستان ديروز طي يك جلسه يي كه تحت رياست شاغلي ريچارد دينگلي مسوول پروگرام ماين پاكي براي افغانستان در اسلام آباد و به اشتراك مسوولين موسسات ماين پاكي در هوتل اريانا داير گرديده بود مورد غور و ارزيابي قرار گرفت .

در جلسه متذكره محترم ملا محمد حسن مستعد معاون رياست عمومي اداره امور پاليسي ا.ا.ا را در قبال محو كامل ماين به اشتراك كننده گان توضيح كرده گفت ا.ا.ا حمايت و پشتيباني كامل شانرا از پروگرام عدم توليد ، تورييد و استعمال و كارگذاري ماين به سطح ملي و بين المللي اعلام نموده و هرگونه تسهيلات لازم را در محدوده امكانات مادي و تخنيكي براي كار و فعاليت موسسات ماين پاكي در داخل افغانستان فراهم نموده است و از هيچگونه همكاري خويش با موسسات متذكره دريغ نكرده و نه به كار گذاري ماين در داخل افغانستان متوصل گرديده و هنوز هم تعداد از هموطنان ما قرباني ماين اين ميراث شوم روسها و مخالفين در مركز و ولايت كشور ميگردد .

درين جلسه شاغلي ريچارد دينگلي از تسهيلاتي كه ا.ا.ا براي كار و فعاليت موسسات ماين پاكي ايجاد نموده اظهار امتنان نموده و آماده گي بيشتر شانرا ابراز كردند .

عسكر آقايوف ...

نسبت به رقباي خود پېشي گرفته است .

ماموربن انتخاباتي گفتند كه نزديكترين رقيب عسكر اقايوف يعني معاون پارلمان قرغزستان در اين انتخابات چهارده در صد آرا را كمايي كرده است .

بعد از سال ١٩٩٠ ميلادي يعني يك سال قبل از آنكه قرغزستان استقلال خود را از اتحاد شوروي سابق بدست اورد از آن زمان تا كنون عسكر آقايوف در كرسي رياست جمهوري قرغزستان ايفاي وظيفه كرده است .

جهت اخراج اجساد...

سي غواصان شب گذشته توانستند كه . استفاده از هواي مساعد يك ... براي بيرون كشيدن اجساد ادامه دهند .

غواصان اكنون سعي و تلاش ميكنند تا در آن بخش از تحت البحري دسترسي پيدا كنند كه گفته ميشود در آنجا بيست و سه نفر حتي چند ساعت بعد از غرق شدن كشتي زنده بودند. از يك ياداشتي كه از نزد يكي از اجساد بدست امده اكنون اين موضوع روشن شده است كه حتي چند ساعت بعد از وقوع حادثه بيست و سه نفر در داخل تحت البحري زنده بودند . تحت البحري روسيه اخيراً در جريان تمرينات نظامي با يك صدو هجده عمله آن در درياي بارنس روسيه غرق گرديده كه منجر به هلاكت تمام عمله آن گرديد.

د عامي روغتيا ...

په بيلا بيلو برخو كي د لويو ډاكترانو د تخصصي او روزنيز پروګرام د څرنګوالي په باب خبرى اترى وشوى او د عامي روغتيا وزارت د معالجوى طب لوى رئيس محترم ملا عبدالحكيم حكيمي محترم پوهاند شيرزاد يعقوبي محترم آغا ګل دوست او محترم طبيب نجيب الله وزيرى په اړوندو مواردو او د تخصصي پروګرام د تطبيق د اهميت او ارزښت په باب اوږدي خبرى وكړى.

په پاى كي د تخصصي پروګرام د لايحى په مسوده كي يو لړ اصلاحات وشول او د عامي روغتيا وزير محترم ملا محمد عباس اخند ددغه پروګرام د تطبيق په ړاندى د عامي روغتيا وزارت د طبيبانو او چارواكو راتلونكي مسوليتونه ستر او ارزښتناك وبلل .

مشكلات ناشي از ...

معين وزارت پلان و نماينده گان جمعيت افغاني سره مياشت و احصائيه مركزي در وزارت امور خارجه داير گرديده بود پيرامون مشكلات مردم افغانستان ناشي از خشكالي جاري ، اثرات و پيامد هاي منفي آن در عرصه هاي مختلف جلب و جذب كمك هاي بشر دوستانه ، چگونگي كاهش مشكلات و رسانيدن كمك ها به آسيب ديده گان و جستجوي تدابير و راه هاي اساسي بخاطر حل مشكلات و بيرون رفت ازين حالت درد آور و نا هنجار و ساير پيشنهادات و نظرات ارائه شده غور و رسيده گي همه جانبه صورت گرفته و در محدوده امكانات موجود تصاميم لازم اتخاذ گرديد.

په تخار كي ...

كړى و د ميدان ورد ګ والي محترم مولوى شمس الدين د استخباراتو لوى رئيس محترم قاري احمد الله ، محترم مولوى بشير احمد ، محترم مولوى عبدالغني د تخار ولايت د مرافعه محكمي رئيس محترم مولوى نعمت الله اوځو تنو نورو مشرانو او سپين ږيرو د خپلو وينا په ترځ كي د روسانو او د اسلامى امارت د مخالفينو له ظلمونو او شرمونكو جنايتونو څخه چې د خپلو بهرنيو باداراتو په لارښوونه يې زمونږ د هيواد د مسلمانو خلكو پر خلاف په سلګونو جنايتونه كړيدي پرده پورته كړه او خلك يې يو والي اتفاق او پيوستون ته راوبلل .

وروسته د تخار ولايت د خلكو پر ګڼ شمېر لښكر د دغه ولايت د يو تن اوسيدونكي محترم قاري شوكت لخوا ولوستل شو .

در سويس نماينده...

به امضا رسانيدند.

هدف از امضاي اين قرار داد اينست تا سياست مداران برخي كشور ها كه با فساد سرو كار دارند نتوانند پول هاي دولتي را بطور غير قانوني در بانك هاي خارجي انتقال داده و آنرا تصاحب نمايند. در حال حاضر تخميناً پنجصد و نود مليارد دالر در حسابات بانك هاي جهاني بطور غير قانوني انتقال داده ميشود.

د سمنګانو ...

ددغي ولسوالي د سيند د پاسه په پاخه او اساسي ډول جوړ شوېدى د ترانسپورتي وسايطو د تګ راتګ له پلوه د روى دواب ولسوالي د مركزا و د اړوندو كليو او بانډو د خلكو ستونزي او مشكلات لري شوېدي.

ددغه پله د پرانستلو په مراسمو كي د روى دواب ولسوالي ، نظامي مسوول محترم ملا عبدالقيوم د امارتي ادارو پر شمېر چارواكو او د سيمې ګڼ شمېر خلكو برخه اخيستي وه .

ملك	شپږ مياشتني	كلني
د ګډون بيه له هيواد نه بهر		
پاكستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريكا	US$75	US$150

منع كشت كوكنار در كشور ...

يافته بود ضمن توضيح و تشريح آخرين رويداد هاي سياسي و نظامي در كشور خطاب به ژورنالستان اظهار داشتند : امروز با وجود تعزيرات اقتصادي شوراي امنيت سازمان ملل متحد و خشكسالي حاكم در كشور، ا.ا.ا مشتوصل به دست آورد بزرگ سياسي بين المللي طي حاكميت چار سال گذشته در كشور گرديد كه عبارت از صدور فرمان قاطع عاليقدر امير المومنين مبني بر منع كشت كوكنار در تمامي قلمرو كشور مي باشد؛ ازين سبب موقع كنوني كه براي امارت اسلامي و مردم افغانستان از هر حيث تعيين كننده و قابل ملاحظه مي باشد بايد ملل متحد و موسسات خيريه بين المللي حقانيت خط مشي انساني ا.ا.ا را صادقانه درك نموده و با مردم افغانستان مساعدت به موقع نمايند. ايشان در ادامه گفتند : كشور هاي همسايه ما بايد بدانند كه ادامه جنگ در افغانستان به نفع آنها نخواهد بود

موصوف چنين اضافه داشت : اين امر قابل تاثر و انديشه است كه منابع خبري جهان هنوز هم بيخبري شان را از اين موضوع نشان داده و چنان وانمود ميسازند كه گويا در افغانستان به گونه سالهاي گذشته مواد مخدره توليد ميگردد.

بعداً محترم متوكل به ژورنالستان داخلي و خارجي فرصت داد تا پرسش هاي شانرا در زمينه مطرح نمايند .

وي در برابر اين پرسش خبرنگار ما كه چرا فرمان منع كشت كوكنار در اولين روز هاي حاكميت ا.ا.ا در كشور اصدار نيافت و آيا صدور اين فرمان را شما ناشي از ازدياد فشار هاي بين المللي بالاي ا.ا.ا نميدانيد؛ چنين پاسخ ارائه داشت : در ابتدا تطبيق آن مشكل بود ، ما اين فرمان را بتدريج يعني مرحله به مرحله زمينه سازي كرديم تا اينكه امروز موقع صدور آنرا دريافتيم وگرنه اينكار به يكبارگي مشكل بود.

محترم متوكل در مورد عدم همكاري كامل UNDCP در مبارزه با مواد مخدر در كشور چنين اظهار داشت : مبارزه با مواد مخدر از طرف UNDCP حيثيت سمبوليك دارد اگر وضعيت بدينموال ادامه يابد بايد آنها مسوليت خويش را در جايي ايفا نمايند كه ضرورت باشد.

وي در برابر پرسش خبرنگار روز نامه هيواد گفت : اگر در قبال تطبيق اين فرمان كمك هاي موسسات خيريه بين المللي براي دهقانان كشور صورت نگيرد ما در امر تطبيق اين فرمان صادق بوده و تا آخرين امكانات از آن حمايه و پشتيباني ميكنيم .

آيا فكر ميكنيد كه مناطق سرحدي افغانستان از اين فرمان اطاعت بكنند ؟ درپاسخ اين پرسش خبرنگار راديو بي بي سي محترم متوكل گفتند : تطبيق اين فرمان بخود استثنا نميپذيرد مناطق مركزي و سرحدي كشور مشتركاً مكلف به تطبيق بدون قيد و شرط اين فرمان اند.

در پاسخ به آخرين پرسش محترم متوكل چنين ابراز داشت : با توصل به حل مشكلات داخلي ميتوان به حل مشكلات خارجي كشور فايق آمد و از اينرو ميشود روزنه برسميت شناختن ا.ا.ا را از آن خود سازيم.

موصوف در مورد شايعاتيكه گويا امريكا عليه افغانستان دست به حملات راكتي ميزند گفت : ا.ا.ا انتظار ندارد تا امريكا عليه آن دست به چنين اقدامي بزند در صورت وقوع همچو اقدامي ما از تمام كشور هاي همسايه تقاضا داريم تا فضاي قلمرو شانرا در اختيار امريكا قرار ندهند .

مهربان

در يونان اجلاس مجمع عمومي سازمان بين المللي پوليس جنايي گشايش يافت

شصت و نهمين اجلاس مجمع عمومي سازمان بين المللي پوليس جنايي صبح ديروز در يونان گشايش يافت .

بگزارش آژانس خبري ايرنا در اين اجلاس كه نماينده گان حدود يكصدو چهل كشور جهان اشتراك دارند مسايل چون مبارزه با مواد مخدر ، قاچاق انسان، مبارزه عليه جرايم سازمان يافته و همچنان گسترش روابط پوليس هاي جهان مورد بحث قرار گرفت .

اجلاس مجمع عمومي سازمان بين المللي پوليس جنايي پنج روز ادامه مي يابد.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim "Saqeb"
Editor: Ghulam M. Farooq
Printed by: Emirate's Printing Press